دوکتور م، عثمان تره کي ۲۰۱۹/۰۳/۱۳

# د افغانستان نه د بهرنیو ځواکونو

## د وتلو ضمانت

د سولي په مذاکراتو کي چه نن پایته ورسید، په تاکلي وخت د افغانستان نه د بهرنیو قوتونو وتل د اجنڈأ په سر کي ځاي نیولي وو. د وسله وال مقاومت له نظره د بهرنیو ځواکونو د وتلو ضمانت باید د دریمګړي هیواد یا په بهترین حالت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا له خوأ وشي. د طالبانو دغه غوښتنه عاطفي او جذباتي انګیزه لري. نړیوال مروجه دیپلوماسي د ضمانت ورکولو سره نه جوړیږي. پدې مانا چه :

- هیڅ هیواد دیته نه حاضریږي چه د یو ترون په سر باندي د رامنځته شوی احتمالي جنجال په اړه د امریکا او ناتو سره په تقابل کې واقع شي.

- نړیوال حقوق د نړي په کچه د قواوو اندول تمثیلوي. د قدرت د ویشلو په نړیوال سیستم کي زورواک تل خپله اراده په په کمزور باندې تپلي ده. طالبان که غواړي بهرني لشکر د افغانستان نه وتلو ته اړ کړي د ضمانت غوښتني په ځاي باید د بهرنیانو سره د قدرت د دریز نه چلن وکړي. یاني په دولتي واکمني خپلې قبضه ولګوي.

د نورو هیوادونو څخه ضمانت غوښتنه دا مانا لري چه طالبان نن او سبا پخپل زور او دفاعي وړتیا، بهرنیو قوتونو نا قانون حضور سره مقابله کولي نشي او لاس نورو مراجعو مرستو ته غزوي.

- د طالبانو او امریکائیانو راتلونکي موافقه لیک د یوه غیر حکومتي جوړښت ( وسله وال مقاومت ) او بهرني حکومت ( امریکا ) تر منځ رامنځته کیږي. موافقه لیک هیڅ دول حقوقي پایلي لرلي نشي. ځکه چه نړیوال حقوق د دولتونو تر منځ اړیکي تنظیموي. دولتي او غیر دولتي تعاملات تر پوښښ لاندي نه نیسي. د بین المللي حقوقو له زاویې څخه د طالبانو او امریکا تر منځ موافقه لیک چه سیاسي بنه لري، اړخونو ته واجب الاجرأ حقوق او وجائب تاکلي نشي. د مثال په توګه که په موافقه لیک کي د مخکنیو ملاحظاتو سر سره ځیني هیوادونه دیته حاضریږي چه طالبانو ته د بهرنیو ځواکونو د وتلو ضمانت ورکړي، ضمانت حقوقي باور او اجرائي وړتیا لرلي نشي. لامل یې دادي چه بین المللي حقوق د دولتونو تر منځ د اړیکو په محور باندې څرخي.



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

احتمال لري چه د راتلونکو مذاکراتو په پاي کې د طالبانو او امریکائیانو تر منځ یو موافقه لیک لاسلیک شي. که د موافقه لیک د احکامو د تفسیر په سر باندې اختلاف رامنځته شي، مثلاً امریکا د خپلو قواوو د وتلو د ژمني نه سرغړونه وکړي، افغاني اړخ قضیه د هاګ ( لاهه ) نړیوال محکمې ته وړاندې کولي نشي. د هاګ محکمه د دولتونو تر منځ شخړې ته پام اړوي . د یوه حکومتي او غیر حکومتي موافقه لیک متنازع فیه قضیه تر پوښښ لاندې نه نیسي.

خو که په دولت کې واکمن طالب، له امریکا دولت سره د یو تړون له لارې تړل کیږي، د تړون د تفسیر په سر اختلاف، هاګ محکمې ته حواله کیداي شي.

د طالبانو تر څنګ د امریکا نه د ځواکونو د وتلو بیړني ضمانت اخیستل د پاکستان غوښتنه هم ده. پاکستان دا ویره لري چه په راتلونکې، کله چه طالبان دولتي واک تر لاسه کړي، د کنترول نه ووزي.

طالبان د ضمانت په غوښتنه کې د افغانستان ملي مصالحو ته پام اړوي. خو پاکستان په افغانستان کې بهرنیو ځواکونو دوامدار حضور ځانته د بالقوه خطر په سترګه ګوري.

## نتیجه :

هغه موافقه لیک چه طالبان ( د مقاومت غیر دولتي جوړښت ) له امریکایي دیپلوماتانو ( دولتي چارواکو ) سره لاسلیک کوي سولې خوا ته لاره خلاصولاي شي، خو حقوقي باور لرلي نشي: نړیوال حقوق د دولتونو تر منځ تعاملات تر پوښښ لاندې نیسي. د مقاومت ملیشیې او امریکا تر منځ د موافقه لیک متنازع فیه موضوعات ( د مثال په توګه د بهرنیو لښکرو د وتلو په سر اختلاف ) هاګ محکمې ته حواله کولي نشو.

د بهرنیو قواوو د وتلو ضمانت د دولتونو تر منځ د یو تړون په چوکات کې مطرح کیږي. وسله وال مقاومت د یوه ملي مسلمان دولت د درېز نه د بهرنیانو سره باوري تړون لاسلیک کولي شي. تړون په تاکلي وخت د بهرنیو نظامیانو د وتلو موضوع ضمانت کوي. ضمانت هغه وخت اجرایی پروسې ته داخلیږي چه د هاګ محکمه د تړون په تړاو د یو اړخ په غوښتنه په متنازع فیه قضیه باندې پریکړه وکړي . « پاي »

## تذکر:

هرگاه خوانندگان محترم متمایل باشند که نبشته ها و مطالب دیگری از این نویسنده را مطالعه کنند، می توانند با "کلیکی" بر عکس نویسنده در صفحهٔ مقالات، به "آرشیف" شان رهنمائی شوند.